# د چاپېریال ځای په اسلامي آوامرو کې

لیکوال: سمیع الله ( دانشیار )

کال ۱۳۹۹ هـ.ش

بسم الله الرحمن الرحيم

## فهرست

**عنوان** **پاڼه**


سریزه ............................................................ ج
د څېړنې اهمیت ............................................................ د
د څېړنې اهداف ............................................................ د
د څېړنې تګلاره ............................................................ ه
د موضوع د غوره کولو لاملونه ............................................................ ه
لومړی فصل ............................................................ ۱
نظافت او د اسلامي شریعت تاکید ............................................................ ۱
لومړی مبحث: د نظافت پېژندنه ............................................................ ۲
لومړی پراګراف:  د اسلامي شریعت تاکید پر نظافت باندې ............................................................ ۳
دوهم مبحث: د چاپېریال مفهوم او ډولونه ............................................................ ۴
لومړی پراګراف : د چاپېریال ډولونه ............................................................ ۴
دریېم مبحث: چاپېریالي پاکوالی ............................................................ ۵
دوهم فصل ............................................................ ۶
په اسلامي شریعت کې د چاپېریال ځای ............................................................ ۶
لومړی مبحث: په قرآنکریم کې د چاپېریال ځای ............................................................ ۶
دوهم مبحث: د اسلامي نړۍ لید له نظره چاپېریال ............................................................ ۶
دریېم مبحث: په فقه کې د چاپېریال ځای ............................................................ ۷
لومړی مطلب: د چاپېریال په هکله د اسلامي شریعت کُلي او عام احکام ............................................................ ۸
لومړی جز: د لاضرر قاعدې اصل ............................................................ ۸
دوهم جز: انفال ............................................................ ۹
دوهم مطلب: د رزق زیاتوالی د چاپېریال په ساتنه کې ............................................................ ۹

دریيم فصل : د اسلام له نظره چاپېريالي ککړتی........................................................ ۱۰
لومړی مبحث: د اسلامي شريعت له نظره د اوبو ککړتيا ................................................ ۱۱
دوهم مبحث: د هوا ککړتيا په اسلامي شريعت کې ....................................................... ۱۱
دریيم مبحث: غږيزه ککړتيا او اسلامي شريعت ........................................................... ۱۲
څلورم مبحث: د چاپېريالي ککړتيا زيان او ګناه ........................................................ ۱۳
پايله ............................................................................................................. ۱۴
وړانديزونه ..................................................................................................... ۱۶
مأخذونه ........................................................................................................ ۱۸

## سریزه

الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله صلى الله علیه وسلم و على آله و اصحابه ومن تبعهم باحسان وامان الى یوم الدین. قال رسول الله صلى الله علیه وسلم (إِنَّ اللَّهَ طِیبٌ یُحِبُّ الطِّیبَ، نَظِیفٌ یُحِبُّ النَّظَافَةَ، کَرِیمٌ یُحِبُّ الکَرَمَ، جَوَادٌ یُحِبُّ الجُودَ، فَنَظِّفُوا أَفنَاءَکُم وَسَاحَاتِکُم، وَلا تَشَبَّهُوا بِالیَهُودِ تَجمَعُ الأَکنَافَ فِي دُورِهَا)

ژباړه: الله خوشبویه دی، خوشبویي خوښوي، پاک دی، پاکوالی خوښوي، مهربانه دی، مهرباني خوښوي، سخي دی، سخاوت خوښوي. چاپېریال اوکورونه پاک وساتئ، له یهودو سره مشابهت مه کوئ، په داسې ډول، چې هغوی نجاستونه او کثافات په کورونو کې جمع کوي.

په کوم دوران کې چې مونږ ژوند کوو بشري ټولنه د چاپېریالي ستونزو له بحران سره مخامخ دي په داسې حال کې چې څېړونکي د دې بحران د ریښې علتونو، عواملو او د حل لارې په لټه کې دي، د ځمکې پر مخ یې د ژوند اصل ته تهدید دی ځکه چې ځمکه د لویو مشکلاتو سره مخامخ دی، چې د حیاتي منابعو نشتوالی او د چاپېریال ککړتیا ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو دی. په دې آخرو لسیزو کې د علم او تکنالوژي په پرمختګ سره د ټولنیز چاپېریال د بحران په زیاتېدو سره د نړۍ لید د مذهبونو په هکله تغیر یې کړی دی او مذاهب یې د ټولنیز چاپېریال د بحران په رفع کولو کې د تاثیر لرونکو عواملو تر عنوان لاندې د خپل توجه وړ یې ګرځولی د چاپېریال ډېری طرفدارن اوس په دې عقیده دي، چې نه یوازې ټولنیز چاپېریال سیاست له جامع والی څخه برخورداره وي؛ بلکې دا ډول سیاستونه په اجرا کې د دیني، فرهنګي او اخلاقي ملاتړ ته اړمند دي، چې دا د چاپېریال د تهدابونو ساتونکي دي.

د چاپېریال ساتل یوازې په دې سبب ندې لازم، چې الله تعالی هر چېرته موجود دی بلکې ډېر نور دلایل هم شته. اسلام د ژوندانه پوره نظام په توګه له انسان نه په مختلفو دلایلو غواړي، چې خپل چاپېریال و ساتي لکه چاپېریال د الله تعالی مخلوق دی. د ځمکې او ټولو طبیعي منابعو جوړښت د الله تعالی د حمکت، رحمت او قدرت ښکارندوی دي ځکه نو د انسان د علمیت ( د الله تعالی په اړه ) د پراخولو لپاره ګټور بلل کېږي او باید و ساتل شي. بل دا چې اسلام ولې غواړي چاپېریال وساتل شي چې

دا د اسلام د ژوندانه نظام په توګه د خیر رسولو په اساس بنا شوی دی. ځکه نو اسلام باید له چاپېریال نه حفاظت وکړي ځکه چې د چاپېریال ساتل د خیر کار دی او د خیر کار چې د ذرې په اندازه هم وي ثواب یې الله تعالی ورکوي یعنې په هماغه اندازه به خیر ویني.

نو زما دا مقاله هم په دیني آوامرو کې د چاپېریال ساتنې ځای په هکله دی چې په دریيو فصلونو کې ترتیب شوی چې لومړی فصل کې د نظافت، د چاپېریال مفهوم ، ډولونه او چاپېریالي پاکولای باندې بحث شوی. په دوهم فصل کې چاپېریال ځای په اسلامي شریعت کې تر مطالعې لاندې نیسو او په دریم فصل کې چاپېریالي ککړتیاوې او حل لارې تر بحث لاندې نیسو.

**د څېړنې اهمیت**

د دې څېړنې اهمیت په لاندې ټکو کې بیانولای شو:

۱- د معتبرو منابعو څخه د استفادې له حیثه: په دغه څېړنه کې د قرآني آیتونو، نبوي احادیث او نور معتبرو کتابونو څخه استفاده شوی، چې د څېړنې اهمیت په ډاګه ګوي.

۲- د عامه پوهاوی د رامینځته کولو له هیڅه: دغه څېړنه د چاپېریال ساتنې اهمیت را پیژني او دا هم روښانه کوي، چې څرنګه د اسلامي شریعت د احکامو مطابق له چاپېریال څخه ګټه واخلو.

۳- علمي والی له حیثه: څرنګه چې افغانستان یوه داسې هېواد دی، چې چاپېریال ته زیات اهمیت نه ورکول کیږي نو د هغه د ساتنې په هکله اسلامي شریعت مونږ ته عملي ډول لاربښوونه کوي.

۴- دداسې موضوع څېړل چې د عمل ساحه زیاته ولري د څېړنې په زیات اهمیت دلالت کوي.

**د څېړنې اهداف**

دا څېړنه د لاندې اهدافو لپاره تر سره کیږي

۱- د الله جل جلا له رضا حاصلول.

۲- د چاپېریال ساتنې په هکله خلکو ته معلومات وړاندې کول.

۳- د چاپېریال څخه د سالمې استفادې اړوند ټولنې ته د اسلامي شریعت له اړخه عامه پوهاوی ورکول.

۴- د چاپېریال ساتنې ملي ادارې اړوند په لاره اچول شوی سیالی کې ګډون کول.

**د څېړنې تګلاره**

په دغه څېړنه کې د لاندې تګلارې څخه استفاده شوی ده.

۱- د موضوع د منطقي تسلسل په غرض په فصلونو، مباحثو او مطلبونو ویشل شوی ده.

۲- نوموړی څېړنه یوه علمي څېړنه ده، د څېړنې او پرتلې لپاره له معتبرو اساسي علمي مأخذونو او باااعتماده انټرنیټي سایتونو څخه استفاده شوی.

۳- دا لیکنه په پښتو ژبې تر سره شوی ده، نو د پښتو ژبې ټول اصول په کې رعایت شوي دي.

**د موضوع د غوره کولو لاملونه:** دا څېړنه د لاندې دلایلوپه اساس غوره شوی ده.

۱- د شخصي علاقې له حیثه: دا چې موضوع تر ډېره حده پورې فقهي مسایلو پورې اړه لري نو دا موضوع یو جلا ارزښت لري نو د همدې شخصي علاقې له حیثه مې دا موضوع غوره کړ.

۲- ټولنې ته د خدمت له حیثه:

۳- د چالبوالی له حیثه: په دې څېړنه کې په ځینو داسې مسایلو بحث شوی لکه د اسلامي شریعت دریځ د چاپېریال په هکله او چاپېریالي ککړتیا په اسلام کې چې ددې موضوع د انتخاب یو دلیل دی

## لومړی فصل

## نظافت او د اسلامي شريعت تاکيد

مقدمه: الله جل جلاله دکايناتو د ښه تنظيم اړوند لازمې لارښوونې ترسره کړی دی. که يو انسان په واقعي ډول دالهي لارښوونو موافق مخته ولاړ سي، نو په خپل ژوندانه کې به د هېڅ ډول ستونزې سره مخ نشي. د ټولنيز ژوند له ښېګڼو څخه يوه هم د نظافت (پاکوالی) ساتل دي، د انسان څخه مطلوب نظافت او پاکوالی له زړه څخه شروع بيا د بدن او چاپېريال تر پاکوالي پورې پرا خه ساحه تشکيلوي. د زړه او فکر پاکوالی ځان په اسلامي عقيده جوړول دي، کوم چې الله جل جلاله د اعتقادياتو په نظام کي ورته لارښوونه کړېده. په همدې توګه د بدن او چاپېريال پاکوالی کله په فرضي، کله په واجبي او کله هم په استحبابي ډول غوښتل شوی وي، که انسان د الله جل جلاله په لارښونو او غوښتنو عمل وکړي نو په ټولنه کې به دفکري پاکوالي په عملي کولو سره د مسلمان په صفت پېژندل کيږي. شرک، حسد، اوداسي نورو ناوړه کړنوڅخه به ئې ځان ژغورلی وي. په همدې توګه د بدن او چاپېريال په پاکوالی سره به يې روغتيايي او ټولنيزي ګټې لاسته راوړی وي. ځکه نو ويلای شو، چې د پاکوالي په مراعتولو سره ديني، دنيوي، روغتيايي، اقتصادي او سياسي ګټې او د دنيا او اخرت برياوې تر لاسه کېدای شي.

**لومړی مبحث: د نظافت پېژندنه**

نظافت په لغت کې: په مجموعي او مکمله توګه د پاکوالي سوچه والی او ښايسته والي په معنی دی. څنګه چې د حديث په لفظ کي ورته اشاره شوېده: (تکون فتنة تستنظف العرب) ژباړه: داسې يوه فتنه به راشي، چې عرب به ټول په مجموعي توګه له منځه يوسي او هلاک به يې کړي. نو ځکه عرب په خپلو خبرو او محاورو کې وايي (فلان هو نظيف السراويل) فلاني شخص پاک لمنی دی، چې د پاکوالی لپاره دلته د نظيف لفظ کارول شوېده.

اصطلاحي تعریف: د ځان، بدن، جامې اومحیط (ځای) له پاکوالي څخه عبارت دی. کله چې د یو شخص لخوا په دې اړوند کومې کړنې ترسره کیږي هغو ته نظافت ویل کیږي. یا په بل عبارت: نظافت په شرعي یا اصطلاحي لحاظ سره په دوو معنی ګانو استعمالیږي.

۱: نظافت د الله جل جلاله په عبادت کي له شرک څخه او د الله جل جلاله د بندګانو په مقابل کی له حسد څخه د زړه پاکوالي ته ویل کیږي.

۲. نظافت په شرعي لحاظ د انسان د بدن، جامې او چاپېریال پاکوالي ته ویل کیږي.

**لومړی پراګراف: د اسلامي شریعت تاکید پر نظافت باندې**

الله جل جلاله د اسلام په رالیږلو سره مونږ ته هر اړخیزه او د ژوندانه په هر بعد کې هدایات او لارښوونه کړی چې یو له هغه څخه نظافت دی. چې د پاکوالی اړوند قرآنکریم، نبوي احادیثو، فقهي علماء وو د خپلو اجتهاداتو او کوښښنو په پایله کې هیڅ پټ پرې ایښي نه دي او د حسي، معنوي، حقیقي او حکمي نظافتونو اړوند یې پوره، پوره وضاحت ورکړی دی، همدغه راز د انسان د استعمالاتو په لحاظ، لکه: دبدن، جامې، ځای، چاپیریال او کورونو پاکوالی په هکله یې مونږ ته لارښوونه کړی دی چې باید دا لارښوونې په خپل ورځنۍ ژوند کې عملي کړو[1].

کوښښ دادی چې مسلمان باید د تل لپاره پاکوالی د خپل ژوند مسیر وګرځوي، په مادي اویا معنوي لحاظ نظافت او پاکوالی ترسره شي. د اسلام د دین غوښتنه د انسان په ژوندانه کي د هر انسان څخه داده، چې هر مسلمان باید د پاکوالي لپاره نمونه او بېلګه وي. ترڅو یوه سوچه، پاکه، صفا او ښکلې ټولنه رامنځته سي. له هر ډول ناروغیو او کمزوریو څخه پاکه وي. د دې څخه علاوه د معاصر طب تجربو دا ثابته کړې ده، چې دوبا د ناروغۍ لمړنۍ وقایوي درملنه په نظافت کي ده او دا معلومه خبره ده، چې وقایه تر درملني غوره

[1] – شریعتي، پوهنیار محمد حاکم، (11, July,2016 ) ناشر: تعلیم الاسلام،ویب پاڼه، روغتیا پالنه.

ده. قرآنکریم د نظافت او پاکوالي خوښوونکي ستايي او په اړه ئې فرمايي: (إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ) [البقره:۲۲۲] ژباړه: الله جل جلاله توبه ايستونکي خوښوي او د پاکوالي او نظافت ساتونکي خوښوي. همدغه راز الله جل جلاله دا هل قباء د ستايني په اړه فرمايي: (فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ) [التوبه:۱۰۸] ژباړه: په قباکي داسي سړي دي، چي دا خوښوي خپل ځانونه د ګناهونو او نجاستونو څخه ښه پاک وساتي او الله ښه ځان پاکوونکي خوښوي. په همدې ډول له خپلو بنده ګانو څخه غواړي، چي په پاکوالي او نظافت کي رښتينې بېلګه وي.

په دې اړوند حضرت پيغمبر عليه السلام فرمايي: (إِنَّكُم قَادِمُونَ عَلَى إِخوَانِكُم، فَأَصلِحُوا رِحَالَكُم وَلِبَاسَكُم حَتَّى تَكُونُوا كَأَنَّكُم شَامَةً فِي النَّاسِ، فَإِنَّ اللهَ لا يُحِبُّ الفُحشَ وَلا التَّفَحُّشَ.) [سنن ابي داؤد، ۱۰۱/۴]

ژباړه: تاسو خپلووروڼو ته راتلونکي ياست خپل لباس ښايسته کړئ، خپل د سفر اسباب منظم ترتيب کړئ، ترڅو تاسو په خلکو کي يوه نمونه جوړه سئ الله جل جلاله بدوالی، بې نظمي اوبدي خبري نه خوښوي.

په بل ځای کي فرمائی: (إِنَّ اللَّهَ طِيبٌ يُحِبُّ الطِّيبَ، نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحِبُّ الكَرَمَ، جَوَادٌ يُحِبُّ الجُودَ، فَنَظِّفُوا بُيُوتَكُم، وَلا تَشَبَّهُوا بِاليَهُودِ الَّتِي تَجمَعُ الأَكنَافَ فِي دُورِهَا) [سنن الترمذی، ۱۱۱/۵]

ژباړه: الله ښايسته دی ښايسته والی خوښوي، پاک دی پاکوالی خوښوي، سخي دی سخاوت خوښوي، مهربانه دی مهرباني خوښوي،،خپل چاپيريال پاک وساتئ. ديهودوسره مشابهت مه کوئ؛ کوم چي کثافات اوچټلي په کورونوکی ټولوي او ساتي.

**دوهم مبحث: د چاپيريال مفهوم او ډولونه**

چاپيريال عبارت له هغه ټولو اشياؤ څخه دی، چي زمونږ په شاوخوا کې وجود لري چې يو پر بل باندې تاثير اچوونکي ياستو.

**لومړی پراګراف : د چاپېریال ډولونه**

په دې پراګراف کې به د چاپېریال پر ډولونو بحث و کړو چې چاپېریال څو ډوله وجود لري چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

**لومړی جز: طبعي چاپېریال:** هغه طبعي عوامل، چې زمونږ په شاوخوا کې وجود لري اما د انسان په لاس اېجاد شوی نه وي مګر د ګټې اخیستنې لاندې یې قرار ولري لکه اوبه، هوا او خاوره.

**دوهم جز: مصنوعي چاپېریال** – عبارت له هغه چاپېریال څخه دی، چې په هغه کې انسانان د اشیاؤ ایجادونکی او رامینځ ته کوونکی وي. لکه د اوسېدو ځایونه، صنعتي ځایونه، لارې او داسې نور.

**درېیم جز: ټولنیز او انساني چاپېریال** – هغه محیط چې په هغه کې یو قوم یا یو ملت د یو ځانګړي فرهنګ تر څنګ له یو بل سره ژوند کوي او یو پر بل باندې تاثیر غورځونکي وي، چې په پایله کې یو ټولنیز چاپېریال مینځ ته راوړي.اما د نننۍ عصر پرمختګ او د تګ راتګ آسانتیاو ته په کتو سره اوس د یوه قوم مسئله ندی مطرح بلکې اکثره ښاري ساحو کې د څو مختلفو قومونو شتون په سترګو کیږي، چې له یو بل سره ګډ ژوند کوي چې دا مختلط ټولنیز چاپېریال مینځ ته راوړي.

**درېیم مبحث: چاپېریالي پاکوالی**

لکه څرنګه چې د اسلام دین بدني پاکوالي ته پاملرنه کړی، همداسې سې چاپېریالي پاکوالی هم په بې شمېره احادیثو کې شرحه کړېدی؛ خو د دې ترڅنګ بې د چاپېریال نظافت او پاکوالی د مطلوبو اعمالو څخه ګڼلی دی، حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: (إِنَّ اللَّهَ طِيبٌ يُحِبُّ الطِّيبَ، نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحِبُّ الكَرَمَ، جَوَادٌ يُحِبُّ الجُودَ، فَنَظِّفُوا أَفنَاءَكُم وَسَاحَاتِكُم، وَلا تَشَبَّهُوا بِاليَهُودِ تَجمَعُ الأَكنَافَ فِي دُورِهَا).

ژباړه: الله خوشبويه دی، خوشبويي خوښوي، پاک دی، پاکوالی خوښوي، مهربانه دی، مهرباني خوښوي، سخي دی، سخاوت خوښوي. چاپيريال اوکورونه پاک وساتئ، له يهودو سره مشابهت مه کوئ، په داسې ډول، چې هغوی نجاستونه او کثافات په کورونو کې جمع کوي[2].

د پورتني حديث اړوند شارحين ليکي، چې يهود د الله په ټولو مخلوقاتو کې په باطني اوظاهري لحاظ چټل ترين خلک دي، ځکه عقيده يې باطله ده، همدغه راز د بدن او لباس اړوند هم چټل دي، کله چې څوک ورسره ترڅنګ شي، خراب بوی ترې پورته کيږي. نو پاکوالی د انسان دب دن اساسي رکن او بنياد دی، ځکه چې ميکروبونه او چټلي د ناروغيو را منځته کېدو لوی باعث دی. له همدې کبله د نړۍ په کچه ډاکټران د نظافت او پاکوالي ساتلو اړوند ډېره توصيه کوي په ځانګړي ډول د طاعون ناروغۍ د خپرېدو پر وخت او د ګر مۍ په موسم کې، چې د اسهالاتو ناروغي زياته رامنځته کيږي، په نظافت او پاکوالی کې کوښښ کول اړين دی، تر څو د ناروغيو څخه مخنيوی شوی وي. په عقلي لحاظ هم ويلای شو، چې عقل هم د دې منونکی دی، چې مسلمانان بايد د نړۍ په کچه د ښه صحت درلودونکی او دناروغيو مخنيوی پکښې سوی وي، ځکه دمسلمانانو دين په پوره دقت او کوښښ سره ټينګار کوي، چې دبدن، جامې او ځای پاکوالی بايد د انساني توان ترحده پاک وساتل سي. کله چي مسلمانان د دين اوامر او اساسات ترسره کړي؛ نو هغه اسباب له منځه ځي کوم چي ميکروبونه، جراثيم او ناروغۍ منځ ته راوړي او دټولني غړي پرې مصاب کيږي[3]–[4].

---

[2] – شريعتي، پوهنيار محمد حاکم، (11, July,2016 ) ناشر: تعليم الاسلام،ويب پاڼه، روغتيا پالنه.

[3] – مجله تعليم الاسلام ( ۱۸) ګڼه

Www. Google. com –4

## دوهم فصل

## په اسلامي شريعت کې د چاپېريال ځای

**مقدمه:** په اسلامي لار ښوونو کي تر فکر کولو وروسته معلومیږي، چې اسلام ډېر وړاندي د کائناتو چاپېريال ساتنه په نظر کي نیولې ده، داسي لار ښووني ئې کړې دي، چې په هغو سره د چاپېريال له هر ډول زیانونو څخه ټولنه ژغورل کیږي او له هر ډول داسي شیانو څخه ئې منع فرمایلې ده، چې چاپېريال ککړوي او منفي پایلي ئې پر انسان او نورو موجوداتو پریوځي، دهغو شیانو د کولو تاکیدي امر ئې کړی دئ، چې د چاپېريال پاک ساتلو له پاره اړین دي.

### لومړی مبحث: په قرآنکریم کې د چاپېريال ځای

الله تعالی د قرآنکریم په مبارکو آیتونو کې د چاپېريال پټې او ښکاره رازونه یې د عظیم خلقت له نښو نومولی دی، چې د ځمکې او آسمانونو په پېدایښت کې یې د ایمان خاوندانو ته یې په کې نښې او نښانې یې ګرځولی دی تر څو دوی ته د توحید پر لورې لارښوونه او رهبري وکړي د شپې او ورځې په اختلاف کې چې کله له یو بل سره یې برابروي کله له یو بل څخه اوږد او لنډ وي، کله تود او کله سوړ وي دا هغه علایم او آثار دي، چې د یقین دروازې د حق یووالی ته رسوي، هغه باران چې الله تعالی یې له آسمان څخه را نازلوي او موات ( مړې ) ځمکې پرې ژوندي کوي د حق موندونکو لپاره دا ټول د دې دلیل او ګورهي ورکوي، چې د عقل خاوندان د حق دین باندې متعرف کړي.

### دوهم مبحث: د اسلامي نړۍ لید له نظره چاپېريال

په بشري ټولنه کې دې کار او هڅه شوی، چې د چاپېريال په هکله دوه ډوله نړۍ لید وجود لري. یو الهي نړۍ لید او بل مادي نړۍ لید، چې دا دوه ډوله نړۍ لید پخپله د چاپېريال او شاوخوا په هکله د دو طرز او تفکر مینځ ته راوړونکی دی. ځکه چې مادي نړۍ لید په دې عقیده دي، چې چاپېريال فاقد د شعور دی او کولای شو هر ډول مالکانه تصرف او دخالت په کې وکړو او په دې بهیر کې هغه شخص کامیاب دی، چې ډېره ګټه له طبیعت څخه ترلاسه کړي. مګر الهي نړۍ لید کې، نه یوازې چاپېريال فاقد د شعور ندی بلکې د

الهي نښو نښانو او موجوداتو څخه ګڼل کيږي. په بل بيان سره د ټولو عالمو د اجزاوو ترمينځ ډېر نږدې اړيکه وجود لري او پر ټول نړۍ باندې وحدت حاکم دی.

په همدې دليل سره د اسلام ليد نړۍ ته کُلي ليد دی نه جُزوي ځکه چې د اسلام په مکتب کې جزوي ليد او تفکر مردود ګڼل شوی دی او په همدې دليل سره په دې هکله نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی ( بالعدل قامت السماوات والارض ) ځمکې او آسمانونه په عدل باندې ولاړ دي.

الله تعالی انسان يې په ځمکه کې خپل خليفه ګرځولی دی په انسان کې د خليفه والی صفت څخه ما سوا د بنده ګي صفت سره د خدای ( جل جلاله ) په وړاندې انسان تکميل کيږي. يعنې انسان د الله تعالی بنده دی او بايد د الله تعالی له اوامرو څخه دې اطاعت وکړي نو انسان د خدای تعالی ( جل جلاله ) د جانشين په توګه په هغه چاپېريال کې چې محوري رول لوبوي هغه چاپېريال بايد و روزي او له هغې څخه دې ساتنه وکړي.

**دريېم مبحث: په فقه کې د چاپېريال ځای**

متمدن او غير متمدن غوښتونکی انسان بالاخره د چاپېريال زېږنده ده که وغواړي، چې په چاپېريال باندې برلاسي پېدا کړي او له هغه څخه مستمر ګټه واخلي بايد خپل اعمال د چاپېريال د خلقت سره برابر کړي او د هغه پر اساس بايد عمل وکړي. د چاپېريال قانون يو ټولييز همه شموله حق دی او د هغه تخريب د چاپېريال د قوانينو پر خلاف دی. دا ښکاره ده، چې د چاپېريال د تخريب پر وړاندې اقدام د حق سره د جنګ کولو په معنی دی نو ځکه وايي ( من صارع الحق صرعهُ ) يعنې هر څوک چې له حق سره جګړه وکړي حق به له هغه سره هم جګړه کوي نو لازمي ده، چې د چاپېريال څخه قانوني ډول ګټه واخيستل شي او د هغه له تخريب څخه دی مخنيوی وشي، ځکه د چاپېريال تخريب د نننۍ عصر له ټولنيز معضلاتو څخه ګڼل کيږي د اسلام مبارک دين کې ډېری حل لارې وجود لري تر څو دا چالشونه په فرصتونو تبديل کړل شي او له دې معضلو سره دې مقابله وکړل شي.

نو د فقهي قواعدو له جملې څخه مشهور ترین قاعده، چې په عبادات، معاملات، ټولنیز او اقتصادي روابطو کې له هغه څخه کټه اخیستل کیږي هغه د لاضرر قاعده ده چې څلور ګونی ادله ( قرآن، حدیث، اجماع او قیاس ) له دې قاعدې څخه ملاتړ کوي، چې راتلونکی مطلب کې په دې قاعدې باندې بحث کوو.

**لومړی مطلب: د چاپېریال په هکله د اسلامي شریعت کُلي او عام احکام**

د چاپېریال څخه د ساتنې اصلي موخه د طبیعي عناصرو( اوبه، هوا، خاوره او ژوندي موجودات ) ته د زیان رسولو مخنیوی ده. هر هغه عمل، چې د چاپېریال په خلاف صورت مومي باید د تعقیب لاندې ونیول شي. اسلام د چاپېریال او د هغې څخه د ساتنې په مورد کې تفصیلي احکام لري. اسلام د جامع والی او نړۍ شمول والی په دلیل سره چې د احکامو او قواعدو لرونکی دی په هر عصر او وخت کې د انسان د تغیر موندونکي اړتیاؤ ځواب ګویه دی. د دې مطالبو په ادامه د دې قواعدو د نمونې په توګه چې دا قواعد څو خاصیتونه لري اشاره ورته کوو.

**لومړی جز: د لاضرر قاعدې اصل**

په حقیقت کې دا اصل په ټولو اسلامي قوانینو باندې د حاکم روح حیثیت لري د دې اصل په موجب په اسلام کې ضرر په هېڅ نوعه مشروعیت نه لري که څه هم د قوانینو د وضع او یا د اجرا په مرحله کې وي. فلهذا هر عمل او قانون له هرې مبدا چې وي که هغه ملت یا دولت، که موجب د فرد یا د ټولنې د ضرر د واقع کېدو وي یا د اجرا مرحله کې ضرر رامینځ ته شي د اسلام له نظره مشروعیت نه لري او حرام ده حتی په تسلیط باندې د تمسک والی اصل ( الناس مسلطون علی اموالهم ) تر هغه وخته پورې امکان پذیره ده چې د ده او د لاضرر قاعدې ترمینځ کوم تعارض مینځ ته رانشي په غیر د هغه کې د لاضرر اصل راجح دی. پر همدې اساس هغه هر شخص، چې هغه په تولید یا مصرف سره چې د چاپېریال د ککړتیا لامل ګرځي له

شرعي پلوه ضامن دی او که مقابل جانب یې تړلنه یا راتلونکی نسلونه وي دلته دولت د ټولو خلکو په نماینده ګي مؤظف دی تر څو د دوی د حقه حقوقو په احقاق کې او د دې ډول عمل څخه دې مخنیوی وکړي[5].

**دوهم جز: انفال**

الله تعالی فرمايي:ژباړه ( پوښتنه کوي دوی له تا نه ( ای محمده !) له « حکمه د » غنائمو څخه ووایه « دوی ته چې اموال د » غنیمتونو خاص الله لره دی او رسول ( د الله ) لره دی ( چې تقسیم یې کړئ سم له شرعي اصولو سره ) پس وویریږئ تاسې له الله نه او اصلاح وکړئ تاسې د هغه حال چې په منځ ستاسې کې دی « یعنې پخپلو منځونو کې سره دوستي وکړئ! او نزاع پرېږدئ» او حکم ومنئ تاسې د الله او « حکم ومنئ تاسې » د رسول د الله که یې تاسې مومنان ( په حقه سره ) بېشکه خبره هم داده، چې حقاني مؤمنان هغه کسان دي کله چې یاد کړی شي ( دوی ته نوم د ) الله نو ویرېږي زړونه د دوی او کله چې و لوستی شي پر دوی باندې آیتونه « کلام» د الله نو زیاتوي دغه ( آیتونه ) دوی لره ایمان ( د دوی ) او پر رب « پالونکی» خپل باندې توکل « اعتماد» کوي دوی.

انفال په خپل لوی او وسیع مفهوم کې ټول طبیعي ثروتونو ته شامل دی. یعنې ټول منقول او غیرمنقول اموال چې مالک نلري. فقهاء د انفال څخه مختلف تعبیرونه او معناوې اخلي، چې د هر زمان او مکان د غوښتنو او د خلکو د ټولنیز اړتیاؤ څخه وي.

**دوهم مطلب: د رزق زیاتوالی د چاپېریال په ساتنه کې**

د چاپېریال په پاک ساتلو کې بر سېره پر دې چې د انسان پر جسمي او ځاني سلامتیا کې تاثیر لري د دې تر څنګ د انسانانو د رزق په زیاتوالې باندې هم تاثیر کوي. زیاتره علماء وايي: د لوښو پاک مینځل او د هغه چاپېریال چې په کې ژوند کوو د هغه پاک جارو کول او پاک ساتل یې د رزق د زیاتوالی باعث ګرځي.

---

[5]- اولین کنفرانس ملی علوم و مدیریت محیط زیست ایران، صـ ۶، سال ۱۳۹۶.

## دریېم فصل

## د اسلام له نظره چاپېریالي ککړتیا

**مقدمه:** د انسان پر شا و خوا موجود ټول کائنات د الله تعالی مخلوق دئ، الله تعالی انسان په ځمکو، ځنګلونو، دریابونو، سیندونو او نورو ډول-ډول شیانو سره اباد کړی دئ، ځمکه ئې د انسان په واک کښې ورکړې ده، آسمان ئې پر انسان د هسک بام په ډول په ښکلو ستورو او سیارو سره ښایسته کړی دئ، تر آسمان لاندي ډکي وریځي د انسان داوبو داړتیا د تکمیل له پاره دي. پر ځمکه ډول-ډول مرغان، په دریاب کي ډول-ډول کبان او آبي حیوانات د انسان د خوراکي اړتیا تر څنګ چاپېریالي اړتیاوي هم پوره کړي دي، ټول کائنات دالله تعالی مخلوقات دي او په منظم او محکم حکم سره ئې خلقت سوی دئ، دالله تعالی ارشاد دئ: (صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ)(النمل: ۸۸) ژباړه: الله تعالی هر شی په مناسب ډول مضبوط پیدا کړی دئ.

الله تعالی د هرشي د نوي خلقت په وخت کي ددې ځانګړتیا خاص خیال ساتلی دئ، چي نوموړی باید په ځمکه کي د انساني ژوند له پاره ګټور وي الله تعالی هرڅه په کمیت او کیفیت پوره پیدا کړي دي، په دې نړۍ کي ددوی دا دنده ده، چي دانساني ژوند د جسم او چاپېریال له پاره ګټور تمام سي، انسان ته په کار ده، چي په نوموړو سره د خپل صورت او چاپېریال ساتنه وکړي، تر څو په روغ صورت او ښه چاپېریال د الله تعالی په عبادت مصروف واوسي. الله تعالی فرمایي: (إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ (البقره:۴۹) ژباړه: یقینا موږ هرڅه په اندازه سره پیدا کړي دي. دا دانسان په لاس رامینځته ته سوي حالات دي، انسان هغه مسؤولیت له پامه غورځولی دئ، چي د الله تعالی له خوا د نوموړي په غاړه ورکول سوی دئ، د الله تعالی ارشاد دئ (هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا) (هود: ۶۱) ژباړه: هغه(الله تعالی) تاسي د ځمکي څخه پیدا او پر ځمکه اباد کړي یاست.

ددې آیات غوښتنه داده، چې الله تعالی انسان ته دا مسؤولیت ور سپارلی دئ، چې نوموړی دددې نړي د جوړیدلو کوښښ وکړي، دهغو شیانو څخه په پوره ډول پرهېز وکړي، چې د مځکي دابادۍ او پر مځکه دآبادو مخلوقاتو د ژوند او بریالیتوب سره په ټکر کنبي وي، که کوم داسي توکي پیدا سي، چې پر مځکه د انسان او نورو ژوندیو موجوداتو ژوند له خطر سره مخ کوي، انسان مکلف دئ چې نوموړي توکي له مینځه یوسي. نو د اسلامي شریعت له انده د چاپېریالي ککړتیا باندې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

**لومړی مبحث: د اسلامي شریعت له نظره د اوبو ککړتیا**

د اسلام مبارک دین اوبه یې د ژوند د اصلي مصادرو څخه بولي . انسان په مختلفو دلایلو سره د اوبو د ککړتیا لامل ګرځي لکه فاضلاب، د لوښو او کالیو مینځّلو اوبه، د مرداریو او حیواني کثافاتو غورځول په رودونو ، د کلیو او ښارونو د اوبو په مسیر کې. د دې ټولو کثافاتو غورځول دي، چې اسلامي شریعت دا ټول ناخوښ کړل شوي تصرفات ګناه ګڼي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: هېڅ څوک حق نه لري، چې په ولاړو اوبو کې دې ادرار( بولې ) وکړي او د ابن ماجه په حدیث کې راځي، چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په روانو اوبو کې د ادرار کولو څخه یې منع فرمایلی.

**دوهم مبحث: د هوا ککړتیا په اسلامي شریعت کې**

هوا د ټول بشر عمومي حق ده او د هغه ککړتیا په ډول چې وي، چې د انسانانو د اذیت، ضرر او همدارنګه د عمومي روغتیا ته د زیان رسولو لامل وشي دې ته په ځمکه کې فساد کول ویل کېږي. الله تعالی فرمایي: چې تاسې په ځمکه کې وروسته د هغه له اصلاح څخه فساد او تباهي مه کوئ. په هغه وخت کې چې غرب په غرونو او ځنګلونو کې ژوند کاوه، اسلامي علماء د ټولنې د عمومي روغتیا او د هوا د ککړتیا مخنیوی لپاره لاس په کار شوي ول، چې دوی عمومي حمامونه او آهنګري او د دې په څېر هر هغه څه چې د هوا د ککړتیا لامل کېده په مسکوني ځایونو او د ښار په مینځ کې منع وګرځول.همدارنګه د سګریټو په مصرف کې

چې د هوا د ککړتیا او د خلکو د اذیت لامل ګرځي فقهاء په د څو دلایلو په ذکر کولو د هغه څخه يې منع فرمايلي.

١– الله تعالی په سورة البقره کې فرمايلی: ژباړه ( خپل ځان پخپل لاس هلاکت ته مه اچوئ) .

٢– د لاضرر و لاضرار فقهي قاعده: هيڅ څوک حق نه لري، چې خپل او بل کس ته ضرر ورسوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: مسلمان هغه څوک دی، چې نور مسلمانان د هغه د لاس او ژبې له ضرر څخه په امن کې وي. نو د دې معضلې د حل لاره هم اسلامي شریعت مونږ ته رانبودلی دی، چې هغه د ونو او نیالګیو کېښنودل دي. د ونو اونیالګیو کښېنولو د دنیوي او اخروي ګټو معلومیدو وروسته باید هرڅوک داکوشش وکړي، چې په دې نېک او له خیر ډک کار کې برخه واخلي او نورو ته هم ترغیب ورکړي.په صحیح البخاري کې حدیث نمبر :۶۰۱۲: کې راغلي : حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ غَرَسَ غَرْسًا فَأَكَلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ أَوْ دَابَّةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ».

ژباړه : کله چې کوم مسلمان نیالګی کښېنوي (درخته شنه کړي) بیا دهغه (له میوي اوپاني یا کومي برخي څخه ) انسان یا حیوان خوراک کوي نودا دهغه لپاره صدقه شمارله کیږي. اوپه ۴۰۵۳ حدیث شریف کې راغلي : حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ: حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ: حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ إِسْحَاقَ: أَخْبَرَنِى عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ: دَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ عَلَى أُمِّ مَعْبَدٍ حَائِطًا فَقَالَ: «يَا أُمَّ مَعْبَدٍ، مَنْ غَرَسَ هَذَا النَّخْلَ أَمُسْلِمٌ أَمْ كَافِرٌ»؟ فَقَالَتْ: بَلْ مُسْلِمٌ، قَالَ: «فَلا يَغْرِسُ الْمُسْلِمُ غَرْسًا فَيَأْكُلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ وَلاَ دَابَّةٌ وَلاَ طَيْرٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةً إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». ژباړه : کله چې کوم مسلمان نیالګی کښینوي اوبیا له هغه کوم انسان یا څاروی یا مرغان څه وخوري نو دده لپاره ترقیامت پوري صدقه ده .

**دریيم مبحث: غږیزه ککړتیا او اسلامي شریعت**

غږ که له خپل معمولي حد څخه تجاوز وکړي د غوږ د تکلیف باعث، په خلکو کې د ستړیا احساس، د هغوی د اذیت لامل ګرځي او د هغوی آرامتیا له مینځه وړي..

نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا يې ونه منل، چې خلک دې لمانځه ته په خراب او ناخوښ کړی شوي آواز را وبلل شي؛ بلکې د آذان په خوږ آواز او هغه هم د هغه شخص په آواز، چې خوږ او ښایسته غږ ولري را ودې بلل شي. او فرمايلی چې ( الله تعالی بېزار ده له هر هغه تُندخويه او رياکاره متکبر شخص څخه او له هغه ټولو خلکو څخه چې په بازار کې چغې وهي او له هغه خلکو څخه چې په شپه کې لکه مردار وي او په ورځ ې لکه خر غوندې په ځان باندې مشغول وي او د نورو په فکر کې نه وي، او له هغو خلکو څخه چې د دنيا څخه خبرداره وي او د آخرت څخه غافل او جاهل وي. په بل عبارت سره د چاپېريال پاکوالی له غړيزه ککړتيا څخه د سالم ژوند لپاره له ارزښت لرونکو نعمتونو څخه ګڼل کېږي[6].

**څلورم مبحث: د چاپېريالي ککړتيا زيان او ګناه**

اسلامي شريعت د چاپېريال په اهميت او ساتنه کې مونږ ته د ترغيب ترڅنګ د ترهيب درس هم راکوي چې په مقابل کې يې د چاپېريالي ککړتيا څخه خوداري وکړو او د هغه په ساتنه کې خپل اسلامي او ملي وجيبه ادا کړو. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی: دری ډله خلک دي، چې د دريو ناروا کړنو له کبله د خدای تعالی له رحمت څخه به ليرې وي (اتقوا الملاعن الثلاث: البراز فی الموارد والظل وقارعة الطريق (سنن ابن ماجة: ٣٢٨).

نو طبيعي پېښې تر يوه حده پورې د انسانانو د اعمالو تابع ده يعنې که انسانان د خدای ( جل جلاله) له اوامرو څخه اطاعت وکړي نو د الهي رحمتونو او برکتونو دروازې د دوی پر مخ به پرانيستل شي او که د بنده ګي له لارې څخه منحرف شي په بشري ټولنه کې به فساد رامينځ ته شي.الله تعالی په سورة شورا کې فرمايي: د ژباړې مفهوم يې ( هر هغه تکاليف او مصيبتونه چې تاسو ته درسيږي ټول يې ستاسو د لاسه دی په داسې حال کې چې الله ستاسو ډېری بد اعمال عفو کوي[7].

[6]- امرا، دوکتور نورمحمد، اسلام و محيط زيست، صــ ۶- ۲۰.
[7]- اداره روابط عمومی، محيط زيست از نگاه اسلام، اردبهشت سال ۱۳۹۷.

## پایله

چاپېریال ساتنه د ټولو ګډ مسؤلیت دی که د یو پلوه پاکوالی د ایمان یوه برخه ده، نو له بلې خوا بیا پاک چاپېریال د لوړ فرهنګ ښکارندوی دی. هغه ملتونه متمدنه او با فرهنګ ګڼل کیږي، چې خپل ښار پاک ساتي او چاپېریال ساتنه خپله دنده بولي د اسلام د دین غوښتنه د انسان په ژوندانه کیږد هر انسان څخه داده، چې هر مسلمان باید د پاکوالي لپاره نمونه او بېلګه وي. ترڅو یوه سوچه، پاکه، صفا او ښکلې ټولنه رامنځته سي. له هر ډول ناروغیو او کمزوریو څخه پاکه وي. قرآنکریم د نظافت او پاکوالي خوښوونکي ستایي او په اړه ئې فرمايي: (إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ) [البقره:۲۲۲] ژباړه: الله جل جلاله توبه ایستونکي خوښوي او د پاکوالي او نظافت ساتونکي خوښوي.

همدارنګه الله تعالی د قرآنکریم په مبارکو آیتونو کې د چاپېریال پټې او ښکاره رازونه یې د عظیم خلقت له نښو نومولی دی، چې د ځمکې او آسمانونو په پېدایښت کې یې د ایمان خاوندانو ته یې په کې نښې او نښانې یې ګرځولی دی تر څو دوی ته د توحید پر لورې لارښوونه او رهبري وکړي د دې ترڅنګ په فقه کې د چاپېریال ځای چې د چاپېریال قانون یو ټولییز همه شموله حق دی او د هغه تخریب د چاپېریال د قوانینو پر خلاف دی. دا ښکاره ده، چې د چاپېریال د تخریب پر وړاندې اقدام د حق سره د جنګ کولو په معنی دی نو ځکه وايي ( من صارع الحق صرعهُ ) یعنې هر څوک چې له حق سره جګړه وکړي حق به له هغه سره هم جګړه کوي نو لازمي ده، چې د چاپېریال څخه قانوني ډول ګټه واخیستل شي او د هغه له تخریب څخه دی مخنیوی وشي د رزق زیاتوالی کې د چاپېریال په ساتنه هم تاثیر کوي. هغه چاپېریال چې په کې ژوند کوو د هغه پاک جارو کول او پاک ساتل یې د رزق د زیاتوالی باعث ګرځي.

د اسلام له نظره چاپېریالي ککړتیا منع ګرځول شوی، چې هغه د اوبو، هوا او غږیزې ککړتیا پورې شامل دي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: هېڅ څوک حق نه لري، چې په ولاړو اوبو کې دې ادرار ( بولې) وکړي. هوا هم د ټول بشر عمومي حق یې دی او د هغه ککړتیا په ډول چې وي، چې د انسانانو د

اذیت، ضرر او همدارنګه د عمومي روغتیا ته د زیان رسولو لامل وشي دې ته په ځمکه کې فساد کول ویل کیږي.او د غږیزي ککړتیا په هکله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا یې ونه منل، چې خلک دې لمانځه ته په خراب او ناخوښ کړی شوي آواز را وبلل شي؛ بلکې د آذان په خوږ آواز او هغه هم د هغه شخص په آواز، چې خوږ او ښایسته غږ ولري را ودې بلل شي.

## وړاندیزونه

دا چې د چاپېریال ساتنه یوازې د دولت کار ندی بلکې د یو هېواد ټول وګړي مکلف دي تر څو د چاپېریال ساتنې په برخه کې دې خپل اسلامي او ملي وجیبه په درست او صحیح شکل سره دې تر سره کړي، چې دا لاندې وړاندیزونه دواړو ته هم دولت او خلکو ته متوجه دي.

۱- تر ټولو اهم د وعظ او عامه پوهاوی له لارې دې د اسلامي شریعت له نظره خلکو ته دې د چاپېریال ساتنې اهمیت ورته په ډاګه شي.

۲- د چاپېریال ساتنې په هکله دې علمي سیمینارونه دایر شي.

۳- ماشینونه په مناسب ځای کې نصب کول ترڅو غږیزې چاپېریالي ککړتیا مخنیوی وشي.

۴- د خپلو سیمو د ځنګلونو سره ناوړه چلند باید ونکړل شي او دولت دې په دې برخه کې زیات توجه وکړي.

۵- د ښار او د کلیو ونې پرې نه کړل شي او پر ځای یې نور نیالګي کښینول شي.

۶- د ښار په شنو ساحو کې سوداګریزو آبادیو ته دې اجازه ورنکړل شي.

۷- هټۍ وال دېته مجبور کړل شي، چې د دوکانونو مخې ته د ښه چاپېریال لپاره یو یو نیالګی کښینوي.

۸- دسوشل میډیا دلارې خلک د چاپیریال له ګټو څخه خبرول.

۹- په هېواد کې د خلکو لپاره برېښنا جوړول تر څو خپل ضروریات د برېښنا د لارې رفعه کړي او په چاپیریال کي د سوځیدونکو توکو کچه کمه شي.

۱۰- د سړکونو او لویو لارو قیر کول.

۱۱- دښاروالیو په کار کې کیفي ښه والی راوستل.

۱۲- دچاپیریال ساتنې د اداري د ټولو تصویبونو عملي کول.

۱۳- روغتیایی پروګرامونه په لاره اچول تر څو خلک د ناپاک چاپیریال او د هغه روغتیایی ضررونو څخه خبر شي. دا او ځیني نورې مهمې چارې د یو ښه چاپېریال په رامنځ ته کولو کې اړین دې، چې په عملي کیدو سره به یې په راتلونکي کې د یو ښه او صحت مند چاپیریال برخمن شو.

## مأخذونه


۱- قرانکریم.

۲- نبوي احادیث.

۳- اداره روابط عمومی، محیط زیست از نگاه اسلام ، اردبهشت، سال ۱۳۹۷.

۴- امرا، دوکتور نورمحمد، اسلام و محیط زیست، ناشر د عقیدې سایت، کال ۱۳۹۴.

انټرنيتي سایټونو څخه اخیستل شوي مأخذونه.

۵- اولین کنفرانس ملی علوم و مدیریت محیط زیست ایران.

۶- خزانی، فوزیه، اسلام و محیط زیست،

۷- محیط زیست.

۸- سخی، عبدالسمیع ، محیط زیست.

۹- فغفور مغربی، حمید، فصلنامه اخلاق زیستی، سال اول ۱۳۹۰، زمستان ، شماره دوم.

۱۰- مختلف انټرنیټی سایټونه. www.google .com